# د کابل سهار په چاودنو پیلېږي!

## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل

تحلیل CSRS | شماره: ۳٦۵

۲۷ دلو ۱۳۹۹ هـ ش /15 February 2021


ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

# د کابل سهار په چاودنو پیلېږي!



له تېرو څلورو میاشتو راهیسې نږدې هر سهار پلازمېنه کابل د یوې او یا څو بمي چاودنو یا تروریستي پېښو شاهد وي. په دغو چاودنو کې د پخوا په پرتله تر ډېره ټولنیز مشران، مدني فعالان او خبریالان په نښه کېږي. د همدې چاودنو په لړ کې تېره اونۍ د دلوې میاشتې په 14 (د فبرورۍ په 2) نېټه د جمعیت اصلاح افغانستان د مرکزي شورا رئیس دوکتور محمد عاطف هم په یوې بمي چاودنه کې ووژل شو، چې پړه یې لا تر اوسه هېچا پرغاړه نه ده اخیستې. افغان حکومت نه یوازې پر ښاغلي دوکتور محمد عاطف چاودنه وغندله؛ بلکې د چاودنې پړه یې پر طالبانو واچوله؛ مګر د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا پر دوکتور محمد عاطف تر چاودنې څو ساعته وروسته یاده حمله په کلکو ټکو وغندله او دا کار یې د یوې خبیثې کړۍ کار یاد کړ. بل خوا د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر حمدالله محب چې د خواخوږۍ په پار د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر ته ورغلی و، پر دوکتور عاطف چاودنه د هېواد د دښمنانو کارګېلی او ژمنه یې کړې، چې عاملین به یې پیدا او د قانون منګولو ته وسپاري.

په دې وروستیو کې ولې ټولنیز فعالان او کلیدي ملي شخصیتونه د چاودنو ښکار ګرځي، د CSRS تحلیل په دې ګڼه کې مو د یادې موضوع په اړه شننه کړې ده.

### وروستیو چاودنو ته ځغلنده کتنه:

له تېرو څلورو میاشتو راهیسې چې د دوحې تړون (فبرورۍ 29) له مخې خپلمنځي خبرېاترې د څو میاشتني ځنډ تر څنګ د تېر کال په سپتمبر میاشت کې پیل شوي، کابل د هېواد د نورو ولایتونو په پرتله نږدې هر سهار د یوې او یا څو چاودنو شاهد وي. د 2019 کال په پرتله په 2020 کال کې په غیرنظامي کسانو باندې چې تر ډېره ټولنیز فعالان او خبریالان پکې شامل دي، حملې او چاودنې درې برابره زیاتې شوې دي. د خپلمنځي خبرواترو په دغه حساس پړاو کې د چاودنو او تاوتریخوالي زیاتېدو، عام افغانان دې ته ډېر اندېښمن کړي، چې د سولې دغه په لاس راغلی فرصت ښایي د ځینو ځانګړو کړیو د شخصي ګټو لپاره له منځه لاړ شي. بل خوا یوشمېر ټولنیز فعالان او خبریالان د وروستیو ناامنیو له امله د خپل ژوند ژغورلو په خاطر ان هېواد

پرېښودو ته هم اړ شوي دي. دا ځکه چې یوازې په تېرو څو میاشتو کې شپږ خبریالان (یما سیاوش، الیاس داعي، ملاله میوند، فردین امیني، رحمت الله نیکزاد او بسم الله قرلق) په چاودنو کې ووژل شول[1] له دې پرته په ځانګړې ډول هغه ټولنیز شخصیتونه چې په هېواد کې د تل پاتې سولې لپاره د کار کوشش کوي، د یوې نامعلومې کړۍ له لوري په نښه کېږي، چې دې کار کې یې د سولې د روانې پروسې له سبوتاژکولو پرته بله موخه نه لیدل کېږي. د دغو شخصیتونو په کتار کې د دوکتور محمد عاطف ترڅنګ دوکتور عبدالباقي امین، وحید مژده او مولوي ایاز نیازی هم یادولی شو.

## دوکتور محمد عاطف څوک و؟

د معلوماتو له مخې دغه علمي او اکاډمیک شخصیت دوکتور محمد عاطف د افغانستان د تخار ولایت په بنګي سیمه کې زېږېدلی و، لوړې زده کړې یې د هجرت پر مهال په پېښور پوهنتون کې د مقارنة الادیان په برخه کې د ماسټرۍ او (ایم فېل) تر کچې سرته رسولې وې او د استادۍ مقدسه دنده یې هم د مهاجرو افغانانو په مختلفو پوهنتونونو کې ترسره کړې ده. شپږ کاله یې د جمعیت اصلاح ریاست پرغاړه و. څو کاله وړاندې یې د سلام پوهنتون د کندز څانګې د رئیس په توګه هم دنده ترسره کړې او دا مهال یې په مالیزیا هېواد کې خپله دوکتورا پرمخ وړه. دوکتور محمد عاطف له درې کلونو راهیسې د جمعیت اصلاح د مرکزي شورا ریاست چې د هېواد د ملي شخصیتونو په وینا د افغانستان په کچه یو ډېر منظم، د دین او ولس خدمت او چوپړ ته یو ژمن ملي خوځښت دی، هم پرغاړه درلود.

مرحوم دوکتور محمد عاطف په داسې حال کې ووژل شو، چې د ژوند په وروستیو کې یې هم د پورتنیو ارمانونو لپاره هڅې کولې او همدا لامل و، چې د هېواد او پلازمېنې په تاریخ کې یې د جنازې مراسم دومره شانداره او بې ساري وو، چې په زرګونو کسانو پکې ګډون درلود او په پلازمینه کابل کې په ډېر منظم او عالي شکل ترسره شول. همدارنګه د دوکتور محمد عاطف وژنه د افغانستان ترڅنګ د نړۍ سیاسي، علمي، دیني او ټولنیزو شخصیتونو یو ستر جنایت وباله او د نوموړي وژنه یې نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره ستره ضایعه او یو ستر ناورین یاد کړ.

د مرحوم محمد عاطف په جنازه کې د هېوادوالو پراخه ګډون دا څرګنده کړه، چې نوموړی د هغه خوځښت سرلاری و، چې په افغان ولس کې ژورې ريښې لري او یوازینۍ موخه یې هېواد ته رښتینی خدمت کول دي. په همدې خاطر د دوکتور محمد عاطف وژل کېدل په ټولنیزو رسنیو کې هم په پراخه کچه وغندل شول، تر دې چې حکومتي او ملي شخصیتونو د نوموړي د فکري لارې تعقیبول د هغه د ارمان پوره کولو لپاره لازم کار وباله.

د دکتور عاطف د فاتحې په مراسمو کې چې د جمعیت اصلاح افغانستان په مرکزي دفتر کې د درې ورځو لپاره ترسره شول، د ملي پخلاینې د مشر ډاکتر عبدالله عبدالله، د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمدالله محب، د

---

[1] https://pasbanan.com/dr/increase-in-targeted-assassinations-and-the-escape-of-influential-figures-from-afghanistan/

مشرانو جرګې رئیس فضل هادي مسلمیار او ګڼ شمېر نورو حکومتي چارواکو تر څنګ، د طالبانو د اسلامي تحریک پخوانیو غړو او ډېرو مطرح سیاسي څېرو او ملي شخصیتونو هم ګډون کړی و.

له بده مرغه د هدفي وژنو په لړ کې د دکتور عاطف په څېر ملي شخصیت چې د سولې، تعلیم او نورو خیریه کارونو لپاره یې د هېواد ګوټ ګوټ ته له کوم ساتونکي او زرهي موټر څخه پرته سفرونه کول او د هېواد بیارغونه، تلپاتې سوله او د ځوان نسل سمه روزنه او تعلیم یې له سترو ارمانونو څخه وو، هم له منځه یوړل شو.

## هدفي وژنې د سولې د سبوتاژکولو بله وسیله!

د دوحې د تړون له مخې طالبان او افغان حکومت باید خپلمنځي خبرې هم پرمخ یوسي؛ خو د خپلمنځي خبرو د پروسې له پیله تر دې دمه د تېر کال په ډسمبر میاشت کې د کړنلارې په اړه له توافقه پرته د دغو خبرو بله کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه تر سترګو کېږي. بل خوا د دوحې له تړونه وروسته جګړو لاپسې زور اخیستی او په دواړو لوریو کې یې قربانیان یوازې افغانان دي. د خپلمنځي خبرو اترو د لومړي پړاو په وروستیو کې د اوربند او لنډمهالي حکومت د رامنځته کېدو غوښتنې هم مطرح شوې؛ خو د دویم پړاو له پیله تر اوسه د دواړو لوریو ترمنځ نه کومه ناسته شوې او نه د پرمختګ کوم څرک تر سترګو کېږي. سره له دې طالب پلاوي روسیې او د سیمې ځینو نورو هېوادونو ته سفرونه پیل کړل او د افغان حکومت پلاوي بیا ادعا وکړه، چې له یوې اوونۍ انتظار وروسته لا هم طالب پلاوی رسمي خبرواترو ته نه حاضرېږي. ښایي د اوربند او لنډمهالي حکومت موضوعګانې هغه څه وي، چې دواړه لوري یې له خبرواترو څخه په شا کړي اوسي. دا ځکه چې د طالبانو د قطر دفتر مرستیال شیرمحمد عباس ستانکزي روسیې ته د سفر پر مهال په ډاګه کړې وه، چې هغوی سولې ته چمتو دي؛ ولې په دې شرط چې ولسمشر محمد اشرف غني له واکه لاس په سر شي. خو افغان حکومت بیا د اوربند غوښتنه کوي او د واک ترلاسه کولو لپاره یوازینۍ لاره ټاکنې مطرح کوي.

بل خوا د خپلمنځي خبرواترو د دغه نامعلوم ځنډ په لړ کې په امریکا کې د جوبایډن په مشرۍ د نوې ادارې چارواکو د افغان حکومت په مرسته د دوحې د تړون ارزول اعلان کړي دي. د امریکا د ملي امنیت سلاکار جګ سولیوان بیا ویلي دي، چې د دوحې تړون له مخې به له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل د هوکړې له ارزولو وروسته او شرایطو ته په کتو ترسره شي. د ګانګرس له خوا د افغانستان د حالاتو څارونکې ډلې هم وړاندیز کړی، چې تر راتلونکې مۍ میاشتې دې د پوځیانو د وتلو وروستۍ موده وغځول شي. دا وړاندیزیې هم کړی، چې امریکا باید افغان سولې ته ژمنه پاتې شي. د څېړونکې ډلې پر وینا که پوځیان اوسمهال ووځي، ښایي حالت ډېر خراب لوري ته لاړ شي. همدارنګه ځینو نورو امریکایي چارواکو څرګنده کړې، چې حالاتو ته په کتو او د شرایطو پر بنسټ به د ځواکونو وتل نه یوازې په افغانستان کې د سولې له راتګ؛ بلکې ان به په سیمه کې د امریکا د ګټو له خوندیتوب سره هم مرسته وکړي.

په دغسې یو حالت کې چې طالبان د ولسمشر محمد اشرف غني له واکه لرې کېدل غواړي، افغان حکومت مخکې له کوم ښه پرمختګ څخه د اوربند رامنځته کېدو غوښتنه کوي او امریکا بیا د دوحې تړون د ارزونې خبره، نو د غو ټولو تناقضاتو د خپلمنځي خبرواترو د پلاوو ترمنځ د رسمي ناستو پر وړاندې یو خنډ رامنځته کړی دی.

د سولې په دغسې یو بې ساري فرصت کې هدفي وژنې نه یوازې د اړوندو لورو ترمنځ نورې بې باوري رامنځته کوي، ان د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدو ته هم بهانې جوړولی شي. طالبانو بیا له افغانستان څخه په خپل وخت د بهرنیو ځواکونو د نه وتلو په غبرګون کې د هغوی پر وړاندې د بیا جګړې پیلولو ګواښ کړی، چې پایله یې یوازې د سولې پروسې پر غځېدو او یا له منځه تللو راڅرخېدلی شي او عام افغانان په دغسې نازکو حالاتو کې د راتلونکې په اړه د پخوا په پرتله ډېر اندېښمن ښکاري.

هدفي وژنې یوازې په غندلو او جنایت ګڼلو له منځه نه شي تللای، نو لازمه ده، چې ټولنیزاو ملي شخصیتونه، مدني فعالان او سیاسي لوري د هدفي وژنو پر وړاندې په خپلو کې متحد او یوموټي شي.

سره له دې چې افغان حکومت او طالبان د اوسنیو هدفي وژنو غندنه کوي او پړه یې پر غاړه نه اخلي؛ خو په دواړو لوریو دا لازمه ده، چې د هغو کړیو په رسوا کولو کې چې هدفي وژنې ترسره کوي، لازم او اړوند ګامونه پورته کړي. د دوکتور عاطف د جنازې په مراسمو کې په زرګونو راټولو شوو کسانو د جګړې پر دواړو خواوو غږ وکړ، چې د سولې د راتګ لپاره دې خپل ګامونه ګړندي کړي او پر افغان حکومت یې پړه واچوله، چې له یوې خوا ځان د خلکو د امنیت په برخه کې واکداره ګڼي، له بلې خوا د دوی د امنیت په تامینولو کې تر ډېره پاتې راغلی. راټولو شوو کسانو د مرحوم عاطف د وژنې په اړه د عدالت غوښتنه، د هدفي او ځنځیري وژنو د لړۍ بندېدل او هېواد ته د عادلانه او عاجلې سولې راتګ د خپلو بنسټیزو غوښتنو په توګه مطرح کړې. نو که چېرې هدفي وژنې په همدې توګه دوام پیدا کړي، بیا د بین الافغاني خبرو د لا غځېدو تمه له امکان څخه لرې خبره نه ده او په دې توګه به یې ګټه یوازې هغه چا ته ورسېږي، چې د سولې د روانې پروسې سبوتاژکول غواړي. اسلامي هېوادونه او په تېره د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان او نړیواله ټولنه د هدفي او ځنځیري وژنو د پای ته رسولو په پار باید د جګړې په ټولو لوریو فشار راوړي، ترڅو په افغانستان کې روان ناورین پای ته ورسېږي او افغان ولس هره ورځ خپل سهار له چاودنو پرته پیل کړي.

# چرا مجلس نمایندگان بودجه سال 1400 هجری شمسی را مورد تأئید قرار نمی دهد؟



پس از تقابل دو هفته یی حکومت و مجلس نماینده گان بر سر پیش نویس دوم بودجه سال مالی ۱۴۰۰هـ.ش به روز هژدهم ماه دلو پیش نویس سوم این بودجه از سوی حکومت به مجلس فرستاده شد. با وجود آنکه بیش از یک ماه از سال مالی میگذرد، اما هنوز پیش نویس مسوده بین حکومت و مجلس نماینده گان دست به دست میشود و به نتیجه نمیرسد. قبل از این دو بار پیش نویس بودجه سال مالی ۱۴۰۰هـ.ش از طرف مجلس نماینده گان رد شده است.

## دلائل رد بودجه توسط مجلس نمایندگان

دلایل رد بودجه که توسط کمیسون مالی ولسی جرگه نشاندهی شده، 17 مورد به شرح ذیل میباشد[2]:

- شامل نشدن تعدیلات پیشنهادی اعضای مجلس دربودجه
- شامل شدن برنامه دسترخوان ملی
- حذف شماری از پروژه های مهم از مسوده بودجه
- پیشنهاد ۴,۳ میلیارد افغانی به واحد عملیاتی و دیگر نهادهای تابع ارگ
- انتقال برنامه راه سازی از وزارت انکشاف دهات به وزارت فوائد عامه
- حذف پروژه های مهم ولایتی
- نبود توجه به تعلیق بودجه نهاد هایی که از سوی سرپرستان اداره می شوند
- نارسایی ها به پیشنهاد یکسان سازی حقوق کارمندان دولت ورسیده گی نشدن به نگرانی مجلس در رابطه با حقوق امتیازی
- خرچ دسترخوان و کرایه های خانه برای مقام های دولتی

[2] https://tolonews.com/fa/business-169515

- نادیده گرفتن پیشنهادهای مجلس دراستفاده از منابع مالی کشور
- کمبود وضاحت در باره تمویل منابع داخلی
- افزایش ۱۵ میلیارد افغانی به بودجه توسعه یی
- شامل شدن اداره های جدید در بودجه ملی بدون توافق آنان
- مشکلات در بودجه شهرداری ها در بخش درآمدها
- تنقیص حدود ۱۳ هزار تن از تشکیل حکومت
- افزایش پروژه های ارتقای ظرفیت حکومت درعدم توافق مجلس
- پیشنهاد ۱۹,۹ میلیارد افغانی برای کسر بودجه از صندوق وجهی پول
- اضافه شدن ۲۹ پروژه در سند بودجه با وجود انتقاد های مردم واعضای مجلس
- افزایش هزینه ها درکود های احتیاط

وکلای مجلس با رد مسودهٔ بودجه اعلام کرده اند که اگر وزارت مالیه افغانستان آن را اصلاح نکند و بدون تغیر به مجلس بفرستند مجددا رد خواهند کرد[3].

## جزئیات طرح بودجه پیش نویس سوم

مجموع بودجه ملی افغانستان برای سال مالی ۱۴۰۰هـ.ش مبلغ ۴۷۳ میلیارد افغانی تخمین زده شده که از این میان بیش از ۳۱۱ ملیارد افغانی آن بودجه عادی و ۱٦۱ میلیارد افغانی آن بودجه انکشافی است. به همین ترتیب در پیش نویس سوم برنامه دستر خوان ملی با هزینه ۲۴۴ میلیون دالر که ١٦٠ میلیون آن مصرف شده است حذف شده است اما در بخش دیگر آن بر عملی شدن مرحله دوم این برنامه تأکید شده است[4].

درپیش نویس سوم پیش از سه میلیارد افغانی از کُد ۲۲، پروژه ارتقاع ظرفیت و بودجه شماری از نهاد ها کاهش یافته است اما این رقم برسقف بودجه تاثیری نداشته است. در بخش دیگر این پیش نویس برای تنظیم راهکار تازه حقوق کارمندان یک کُد ایجاد و در آن بیش از ١٦ میلیارد افغانی تخصیص داده شده است.

دربارهٔ پروژه های واحد عملیاتی ارگ آمده است که پس از این تمام پروژه های این نهاد در چارچوب برنامه های نهاد های دیگر دولتی عملی خواهند شد و واحد عملیاتی نقش نظارتی بر این پروژه ها را خواهد داشت. در پیش نویس سوم بودجه موضوع درآمد های شماری از شهرداری ها همچنان واضح نمی باشد، و نیز وجوه احتیاطی در پیش نویس سوم بودجه ۱۹ میلیارد افغانی است.

در پیش نویس سوم کسر بودجه همانند پیش نویس دوم ۳۷ میلیارد افغانی پیش بینی شده است و برای تأمین نیازمندی های حکومت در سال جاری مالی بیش ار ۱۷ میلیارد افغانی قرضه از نهاد های جهانی در خواست خواهد شد[5].

---

3 https://www.google.com/amp/s/avapress.com/fa/amp/21840

4 https://tolonews.com/fa/afghanistan/budget

5 https://tolonews.com/fa/afghanistan/budget-16802

## ارتباط برکناری وزیر مالیه با بودجه سال ۱۴۰۰ هـــ.ش:

ریاست جمهوری روز شنبه ۴ دلو با صدور حکم برکناری عبدالهادی ارغندیوال وزیر مالیه کشور را صادر نمود، و در یک حکم دیگر برای این پست محمد خالد پاینده را منحیث سرپرست معرفی نمود. عزل وزیر مالیه کشور آنهم در زمان حساسی که بودجه سال ۱۴۰۰ هـ.ش دو بار در مجلس نماینده رد گردیده است، و اختلافات میان حکومت و مجلس نماینده گان افغانستان بر سر تصویب بودجه جریان دارد، سوال بر انگیز است. اداره امور دلیل عزل وی را تعلل در جمع آوری درامد ها، عدم همکاری با هیأت مشترک بررسی مقرری های غیر قانونی و ممانعت از این نوع بررسی، ضعف مدیریتی و عدم تعهد به ارزش های حکومتداری خوب عنوان می کند[6]. اما آقای ارغندیوال ضمن نشست خبری به تاریخ 6 دلو اتهامات وارده را رد نموده گفت حلقاتی در ارگ ریاست جهوری افغانستان همیشه در کار او مداخله می کردند و تلاش او برای بستن مجراهای سود آوری این حلقات، وی را با مشکل روبرو ساخت. آقای ارغندیوال همچنان اظهار داشت که از رئیس جمهور خواسته بود تا مستقیماً با وی در تماس شود نه از طریق حلقات خاصی که به دنبال منافع شخصی خود هستند و زمانی که این منافع قطع شود، یک روز هم در افغانستان باقی نخواهند ماند، اما وی از کسی نام نبرد. آقای ارغندیوال دلیل دیگر برکناری اش را شرکت در کمیسیون تدارکات ملی معرفی نمود که طی آن بر قرارداد خریداری 18 نوع گوشت برای ادارهء امور و قرارداد خریداری نفت در مقابل هر لیتر 41 افغانی اعتراض نموده بود، درحالیکه نرخ نفت در بازار های کابل 36 افغانی بود. موضوع خریداری 17 نوع گوشت و مصرف 30 میلیون دالر برای خریداری سبزیجات از سوی ادارهء امور، از سوی یکی از وکلای پارلمان مطرح و جنجال بر انگیز شد.[7]

ظاهراً برکناری وزیر مالیه از پست وزارت مالیه، ارتباط مستقیم با قضیهء بودجه نداشته است. اما با توجه به نبود اعتماد و هم آهنگی میان ارگ و وزیر مالیه در قسمت مصارف، بعید نیست که تعامل وزیر در رابطه به تهیهء بودجه نیز مورد پسند رئیس جمهور و حلقهء ارگ نبوده است.

## تأخیر در تصویب بودجه و تاثیر آن بر اقتصاد کشور:

بودجه در سرنوشت اقتصادی هر کشور نقش کلیدی ایفا می کند، و صورت هزینه سالیانه دولت به حساب می آید. از همین رو دولت حساسیت بیشتری روی تنظیم بودجه دارد، و در شاخه تأمین منابع به طور دقیق باید مشخص سازد که از چه منابعی می خواهد بودجه را تامین کند.

بدون شک با آغاز سال مالی فعالیت ها سال آغاز میگردد، اگر دولت برای آغاز فعالیت های خود بودجه لازم را در دسترس نداشته باشد، همین امر سبب کندکاری و مشکلاتی را در برخی از عملکرد ها با خود به همراه دارد. بودجه در شرایط فعلی نوعی برنامه تعین شده برای پیشرفت در آینده میباشد، اگر در زمان درست تعین شده و در اختیار جهت های مسوول قرار نگیرد، باعث بروز مشکلات متعدد شده می تواند. اما متوازن بودن بودجه که مجلس نمایندگان روی آن تأکید دارد، نیز امری اساسی می باشد. در غیر آن وضعیت اقتصادی بی ثبات کشور بیشتر بی ثبات خواهد گردید.

---

[6] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/afghanistan-55779834.amp

[7] https://www.bbc.com/persian/afghanistan-55799573

وضعیت افغانستان با عوامل گوناگون دچار پیچیده گی های خاصی میباشد که پیش بینی اوضاع را مشکل نموده است. با این حال در وضعیت این چنین کشور اینکه اگر پروسهٔ صلح به نتیجه معین برسد، بدون شک با تغیرات شرایط به همراه خواهد بود، تغیرات شرایط نیاز به تصویبات و فیصله های جدید خواهد داشت و امروز عدم تصویب بودجه تاثیر هنگفت روی اقتصاد و وضعیت اقتصادی کشور آن زمان نخواهد داشت.
اما این که اگر پروسهٔ صلح به صورت پیچیده و نامعلوم باشد و یا این که به نتیجه معین اختتام نیابد، شرایط همینگونه حاکم خواهد بود و تغیرات نیز موجود نمی باشد و عدم تصویب بودجه در زمان معین شده ضرر اقتصادی و اجتماعی بزرگ دولت و جامعه را مقابل خواهد نمود. در طرح بودجه باید میزان هزینه ها، حجم سرمایه گذاری، چگونگی اشتغال زایی و اهداف توسعه مشخص باشد و همچنین دولت باید به آثار بودجه در همه بخش ها شامل دستگاه های دولتی، مصرف کنندگان، تولید کنندگان، سیاست های اجرایی و... توجه داشته باشد به همین منظور مجموعه و طرح بودجه سرنوشت اقتصادی کشور را مشخص می سازد.
وکیل مجلس نمایندگان از ولایت هرات استاد حمیدالله حنیف تأکید دارد که طرح بودجه باید به اساس منافع ملی باشد. درین طرح باید به زیربناها بیشتر توجه شده و پول ها طوری مصرف شود که در پائین آوردن سطح فقر در سال های آینده مؤثر واقع گردد. وی همچنان از خطر حیف و میل در بودجه هشدار داده روی تعادل در معاشات تأکید دارد. وی در دفاع از موقف ولسی جرگه در ارتباط به عدم تصویب طرح بودجه می گوید: " توجه به معاش مأمورین، سربازان و استادان در صدر جدول کاری ولسی جرگه قرار داشت و به مصارف بی جا در طرح بودجه اجازه داده نخواهد شد."
با وصف درست بودن موقف مجلس نمایندگان در مورد رد طرح بودجه برای بار سوم، و تأکید روی اصلاحات درین طرح، نباید رد و بدل شدن طرح بودجه میان ارگ و مجلس نمایندگان، سبب تأخیر کارها به خصوص پروژه هایی گردد که منفعت آن مستقیماً به مردم میرسد. هرچند عدم تصویب بودجه مانع پرداخت معاشات کارمندان دولتی نمی گردد و قوهٔ اجرائیه مطابق قانون صلاحیت دارد تا آنرا حسب معیار های سال قبل به اجراء بگذارد، اما متأسفانه حکومت افغانستان نیز به خاطر بلند شدن آواز مردم و ایجاد فشار بالای ولسی جرگه، در موارد زیادی حتی از تأدیهٔ معاشات نیز خود داری می کند. امیدواریم کشمکش موجود میان ارگ و مجلس نمایندگان هرچه زود تر با واقع بینی و به نفع مردم پایان یابد تا حکومت و مردم از تأثیرات سوء عدم تصویب بودجه در امان مانده و وضع اقتصادی شکننده کشور، شکننده تر نشود.

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غيرحکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تاسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده، چې د نويو څېړنو او پاليسيو ترمنځ داسې ارتباط قايم شي، چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړ و اکاډميکو اصولو برابرې شي.